# پښتو متلونه او د اخلاقياتو تعليمات

# The Element of Moralism in Pashto Sayings

Syed Zafar Ullah Bakhshali [1]

Pashto literature has one of the oldest folklores in the world. It has nourished several genres like Alaho, Bagatay, Badala, Charbaita, Children Songs,Ghazal, Gharry , Saandy, Loba, Neemakay, khairy, Duagany and Old Sayings of the learned elders, to name a few genres. One of these genres is the famous sayings of the olden learned elders which apparently is a few words or a single line but on a deeper level it contains within itself an ocean of knowledge, wisdom, philosophy and meaning. In fact such sayings are the result of the direct or indirect experiences of life which the speakers have accumulated over their life time after having gone through many events of different kinds. Such sayings can be likened to the salt in the meals without which they taste meals but with no relish. Sayings encompass varied themes and address different thoughts and connotations regarding different life situations. They contain themes related to various human emotions like love, sympathy, jealousy, hopelessness, optimism and so on. Moralism is also one of the dominant themes of such sayings. On one hand these sayings reflect the overall social and moral excellence of a society and on the other hand serveas guidelines for the moral development of the coming generations of that society. For instance the sayings like, "Do Good and Have Good' or 'As you sow, so shall you reap", "A clear conscience fears no accusation", "In movement is true blessing" etc. If we think over the deeper meanings of these sayings, we see that there is a lot of wisdom contained in them. They also have very high moral standards to be followed by the individuals of a society. Observance of such moral standards takes a society to supreme heights of moral excellence. Equally their nonobservance by the society can lead to moral degradation. Among the many forms of folklores the sayings have specific focus on moralism due to the fact that they come into existence after an even or happening which is faced by an individual practically by himself which renders him more knowledge able and wise and that is why he wants to transmit his personal experience to the next generations in the form of saying in order to help them gain wisdom from his own experience and let them avoid any situation which can harm them. Keeping in view their practical utility, sayings are of a high importance when it comes to learning the moral norms of a given society. This treatise endeavors to explore the moralistic aspect of Pashto sayings and attempts to bring to light the philosophy and wisdom contained in such sayings.

1 Assistant Professor Department of Pashto Abdul Wali Khan University Mardan

د پښتو اولسي ادب دومره زوړ تاريخ لري څومره چې پښتون لري ـ نن چې پښتو اولسي ادب په کوم ډګر ولاړ دے يقيناً چې د شروع نه تر دې دمه به په دې کښې مختلف قسمه بدلون راغلي وي ـ د وخت او حالاتو مطابق به په دې کښې مختلف رنګونه ګډ شوې او ډېر به ترې لرې شوې هم وي ـ ددې غټه وجه دا ده چې دا اولسي ادب تر مونږ زباني رارسېدلے دے ـ دغه وجه ده چې د دې د وخت او شروع په حقله مونږ په کلکه څۀ راۓ نۀ شو قائمولے ځکه چې زمونږ سره په تحرير کښې د اولسي ادب اصناف د خپل پيدائش نه ډېر وروستو په لاس راغلي دي ـ

> "پښتون د دنيا هغه مشهور قوم دے چې د خپلو رواياتو او تهذيب و تمدن سره سره ئې خپل فولکلوري ادب هم د قدر وړ ګرځولے دے او د دې ئې تر ننه حفاظت او تحفظ کړے دے ـ ځکه چې د پښتنو فولکلوري ادب هم د دوي هومره قدامت لري" (۱)

د پښتو اولسي ادب په ډېرو اصنافو مشتمل دے دغه ټول اصناف ئې جدا جدا نومونه، هيئت او وزن بحر لري ـ دغه اصناف اګر چې د شاعرۍ يا د نثر په رائجو قواعدو، پېمانو او عروضو ډېر پوره نۀ دي خو د مقصد،معيار،فلسفې او پيغام په لحاظ په ټول پوره دي ـ د پښتون، پښتو او پښتونولۍ صحيح عکاسي پکښې شوې ده ـ دا ځکه چې دغه ادب د اولس نه راڅوت شوے دے ـ اولس په خپله تخليق کړے دے او د اولس ترجماني ئې کړې ده ـ په دې حقله محقق زلمے هېواد مل ليکي ـ ـ

> "زمونږ خلقو د پېړو په اوږدو کښې خپل ارمانونه، خپلې خوښۍ، خپل غمونه، خپلې مينې او د خپل اجتماعي ژوندکړۀ وړۀ په دغو شفاهي ادبياتوکښې بيان کړي دي ـ دغه ادبيات لکه چې له نامه ښکاري، په شفاهي ډول خولۀ په خولۀ انتقال شوي" (۲)

د پښتو د اولسي ادب په اصنافو کښې ټپه چې مصرعه او لنډۍ هم ورته وئيلې کېږي، کاکړۍ، سروکي، نارې يا غړونه، د اتڼ نارې، ساندې، د وادۀ ښادۍ سندرې، چغيان (انګۍ)، د مياندو سندرې (الا هو)، د ماشومانو سندرې او متلونه وغېره شامل دي ـ دا او ددې په شان يو شمېر داسې نور اولسي اصناف دي چې په مختلف شکل کښې د خپل اولس نمائندګي کوي ـ

"ددې ادبیاتو مطالعه دا راښائي، چې که زمونږ عام اولس له ښاري او متمدن ژوند نه لېرې په غرو،درو، بېدیاؤ، دښتو او کېږدیو، کښې هم ژوند کړے دے، د هُنري ذوق تر څنګ ئې د اجتماعي او محیطي مسائلو په باب خاص فکر هم درلود د دوي دغه ډول فکري او هُنري ځانګړنې (خصوصیات) مونږ ددغو ادبیاتو په بېلابېلو ډولونو کښې لیدالاي شو" (۳)

د متل پېژند ګلو:په دې ټولو اصنافو کښې متل یو داسې صنف دے چې په ظاهره خو یوه وړه جمله وي خو په باطن کښې د معنو، مطلب او فلسفې او پېغام سمندر لري ـ ددغې لنډې، خو ژورې، ساده او بې ساخته جمله په خپله شا پوره پسِ منظر لري ـ دغه پسِ منظر په یوه واقعه او حادثه اړانه لري چې په اصل کښې د متل د زېږدو نه مخکښې د متل تجربه وي او ددې تجربې په نتیجه کښې چې کومه جمله په وجود کښې راشي نو د "متل" شکل اختیار کړي ـ ځکه خو پوهان متل ته د کاني کرښه وئیلې ده ـ د متل ډېر تعریفونه شوي دي او هر تعریف په خپل ځاے د متل وضاحت د یو خاص زاویې نه کوي ـ دلته د یو څو پوهانو د متل په حقله تعریفونه او وضاحتونه وړاندې کووم ـ

"د متل مثال د هغه کاڼي دے چې د زمکې په ژورو کښې ئې په مودو مودو تاوونه خوړلي وي او بیا ترې قیمتي غمے یا هیره جوړه شوې وي ـ یعني مطلب دا چې متل زمونږ د ازمائیلو تجرباتو یوه کوټلې خزانه وي ـ" (۴)

دریاب ډکشنري د متل معنیٰ داسې لیکي:

" متل (م،تل) اسم، واحد، مذکر، یوه وړه جمله چې د یوې ژبې د ویونکیو اکثریت ئې هوښیارتیا د ټوکړې په حېثیت قبلوي، مثال ضرب المثل"(۵)

" د ژوند د تجربو او مشاهدو په یو خاص چُرت کښې د طنز و مزاح د مالګې سره په اختصار او جامعیت بیان، د معنویت او رواني سره سره د کره والي او برجستګۍ په خوږو پُر معمور خوږې او اثر ناکې جملې، د بلاغت او رښتیاؤ نه ډکې لنډې لنډې خو ژورې وېنا کاڼي متلونه بللے شي ـ چې د ژبې خوارۀ او غوړوالے په ځان کښې راټولوي ـ بغېر د متل محاورې او روزمرې ژبه ډېره ابغه نېغه او پیکه لګي" (۶)

"په پښتو ژبه کښې اصطلاحات، محاورې او متلونه هم بې ځچه زيات دي او ددې ژبې په وسعت او همه ګيرۍ دلالت کوي ـ د دوي په ذريعه زمونږ د رسم و رواج کردار او تمدن او زمونږ د معاشرتي ژوند د هر اړخ اندازه په ښۀ شان لګېدلے شي" (۷)

لکه څنګه چې د ادب د نورو اصنافو جامع او مکمل تعريف ممکن نۀ وي، دغه شان متل هم دے ـ دغه مشت نمونه خروار د متل په حقله د مختلفو پوهانو راۓ او د خپل نقطۀ نظر نه د متل په حقله راۓ او تجزيه پيش کړې ده ـ

خو متل خپل مطلب په خپله بيانوي، خو ددې متل په مصداق چې اصل له اشاره پکار وي او په متل کښې د اشارو کنايو ژبه د الفاظو او معنو نه ډېره شدت سره استعمال شوې ده ـ ځکه خو متل په بله ژبه کښې هغه شان نۀ شي استعمالېدې لکه څنګه چې ئې اهلِ زبان استعمالوي، خو متل د واقعاتو او حادثاتو د تل نه راوتې خبره ده چې په کوزه کښې سمندر رابند شوے وي ـ خو متل دومره ژور وي چې دې ته څومره ورکوزېږې دومره ئې خوند،رنګ او مطلب سېوا کېږي ـ

## پسِ منظري مطالعه

متل خو چونکې د اولسي ادب اهم توکے دے او دا د ژبې د پېدا کېدو سره پېدا کېږي او د وخت سره سره په دې کښې وسعت، زياتے، کمے، بدلون، او ژورتيا راځي ـ په پښتو کښې د ليک لوست د کمي د وجې نه دا متلونه په خبرو کښې سينه په سينه راروان دي خو د دې د خوندي کولو او په ليک کښې د راوستلو شعوري کوششونه نۀ دي شوي ـ په دې سلسله کښې د مستندو معلوماتو تر مخه ورومبے کوشش د نورلسمې صدۍ عيسوۍ په آخري نمايۍ کښې د مولوي سيد احمد "روضة الامثال" نه شوې دي ـ (۸)

په دغه وخت کښې او ددغې نه را په دېخوا چې د متلونو راغونډولو، کتابي صورت کښې خوندي کولو او پرې د څېړنې کولو يوه لنډه شان خاکه څۀ په دې ډول ده:

ملا عبدالسلام اشیزے، "طلبِ مذهب"، ګل محمد نوري "متلونه"، محمد دین ژواک "پښتو متلونه" عنایت الله شیراني "امثال او حکم" په دې کښې بعضې ګابونه مکمل متلونه دي او په بعضو کښې څهٔ حصې شاملې کړې شوي دي ـ

د متلونو په حقله په وړومبي صف کښې مستشرقین هم ولاړ دي خو د دوي کار سطحي دے او بله دا چې دوي اهلِ زبان نهٔ وو په دې وجه د دوي نه ډېرې تېروتنې هم شوي دي ـ

"مېجر ګلبرټس خو په پښتو کښې د متلونو د وجود نه هډو منکر دے ـ ولې د کرنل سي اے بائل د "نقلونه: نومې مختصر شان کتاب د پادري هیوز :روضة الامثال" د ډار مستېټر کتاب "هاروبهار" د مېجر راورټي، ګرائمر" او د پېښور ډسترکټ ګزېټر د متلونو څهٔ محدودې شان نمونې لري ـ (۹)

په دې مد کښې د جېنزاندولډسن کتاب، "سپوږمیه کړنك وهه راخېژه" د یادونې وړ دے ـ چې سل تپې او سل متلونه ئې سره د انګرېزي ترجمې پکښې شامل کړي دي ـ

د متلونو د اهمیت تر مخه په دې کښې د څېړنې کار هم شروع شوے دے ـ ددې سره به نهٔ صرف متلونه خوندي شي بلکې په دې به څېړنه هم اوشي ددغې څېړنې سره به د متل دننه د پیغام، فلسفې او مطلب ملغلرې هم رابهر شي او د بعضې متلونو پسِ منظر به هم واضحه شي، چې د هغې په وجه مفهوم ډېر په آسانه مخې ته راشي او د متل استعمال په صحیح ځاے او ډېر معني خېز انداز کښې به اوکړے شي ـ تر اوسه پورې چې په متلونو د سندي څېړنې کوم کار شوے دے په هغې کښې دا کار د یادونې وړ دے ـ

1. جمیل احمد،د پښتو متلونو تحقیقي او تنقیدي جائزه، د ایم فل مقاله، ۱۹۹۵ء، پښتو څانګه پېښور پوهنتون، پېښور ـ
2. لعل بادشاه خیالي، د پښتو متلونو تهذیبي او لساني مطالعه، د ایم فل مقاله، ۲۰۱۲ء، علامه اقبال اوپن یونیورسټي، اسلام آباد ـ
3. ډاکټر سلطان رحیم، د پښتو او عربي د متلونو تقابلي مطالعه، ۲۰۱۶ء عربي څانګه پېښور پوهنتون ـ

## د متل استعمال

د ادب پوهانو د متل مثال داسې ښودلے چې لکه په خوراک کښې چې مالګه وي دغه شان په خبرو کښې د متل حېثيت هم دے (۱۰) ـ د متل نه بغېر خبرې پېکه اوړدې او بې مزې وي د متل سره خبرې لنډې مقصدي او د خبرې تل ته په کوزېدو کښې د انسان مرسته کوي ـ

"د متل غټ خصوصيت به دا وي چې خبره به لنډه وي مګر جامع به وي ـ د پوهې دپاره به پکښې بې اندازې اثر انګېزي وي ـ ځکه پرې واعظان خپل وعظ مؤثره کوي ـ شاعران ئې د شعرد خوند رنګ سېوا کولو دپاره پکاروي او مقررين پرې په خپلو تقريرونو کښې جوش، جذبه او ولوله رابرڅېره کوي او خلق د عمل دپاره راپاروي ـ مجلس آراء خلق پرې خپل مجلسونه ګرموي ـ اديبان ددې په برکت په خپلو ليکونو تحريرونو کښې زور، تنوع، زړۀ راښکون او د مطالعې ذوق و شوق راپورته کوي ـ وکيلان ئې په خپلو بحثونو کښې د دليل او ثبوت په توګه وړاندې کوي ـ استاذان ئې په خپلو درسونو کښې د طالبعلمانو د اخذ، زده کړې، ابلاغ او ګرانه خبره په اسانه پوهولو دپاره په استعمال کښې راولي" (۱۱)

هسې خو د موضوعاتو په لحاظ د متلونو ګڼ قسمونه دي او زما د اندازې مطابق په دې دنيا کښې به داسې ډېر کم څېزونه وي چې د هغې په باره کښې به متل نېغ په نېغه يا په اشاره کنايه کښې څۀ ذکر نۀ وي شوې د دې نه دا اندازه ډېره په اسانه کېدے شي ـ چې متل د موضوع په لحاظ څومره وسعت او فراختيا لري ـ

په دې مقاله کښې د مشت نمونه خروار په توګه صرف هغه متلونه وړاندې کولې شي چې په هغې کښې، په څۀ نا څۀ شکل کښې د اخلاقياتو يادونه شوې وي ـ ځکه چې د متلونو دا حصه هم ډېره درنه پنګه لري او ددې نه پښتنو د تهذيبي او تمدني ژوند ډېره ښۀ عکاسي کېدے شي ـ

"په متل کښې د حکمت او هوښيارو خبرو عنصر ډېر زيات وي ـ په څنو متلونو کښې خو په ساده ساده جملو کښې داسې د عبرت او حکمت تعليم ورکړے شوے دے چې لوستونکے يا اورېدونکے په دې مجبوره شي چې دغه متلونه د ژوند حصه جوړه کړي او عمل کښې ئې راولي"(۱۲)

د اخلاقیاتو، حکمت، پوهې او هوښیارتیا په حقله د متلونو نمونې څهٔ په دې ډول وي ـ دا متلونه خپله معنا، مفهوم، مطلب او فلسفه په خپله بیانوي ـ

1) بدو سره کښېنه بد به شې، ښو سره کښېنه ښهٔ به شې ـ

2) پاک اوسه بې باک اوسه ـ

3) راست اوسه په لویه لار کښې ملاست اوسه ـ

4) چې زر پاک وي نو د اوره ئې څهٔ باک وي ـ

5) خپل څادر سره پښې غزول پکار دي

6) په پردي لاس مار هم مهٔ وژنه ـ

7) پردے غم د واورې سوړ وي

8) پوښتنه کول عیب نهٔ دے، نهٔ پوهېدل عیب دے ـ

9) خبره زده کړه بیا ئې اوکړه ـ

10) د کم عقل دوست نه هوښیار دښمن ښهٔ دے ـ

11) پرهېز د سلو دارو نه ښهٔ دے ـ

12) د نن کار سبا ته مهٔ پرېږده ـ

13) چې خپله ئې زده نهٔ وي د بل دې اومني ـ

14) عقل د کم عقلو نه زده کېږي ـ

15) پوره وران دې کړهٔ دوه کوره

16) قرض ورکول یو هُنر او اخستل ئې سل هُنره غواړي ـ

17) قرض د محبت قینچي ده ـ

18) خپل عزت په خپل لاس کښې دے ـ

19) سرېتوب په بيعه نۀ اخستلے کېږي ـ

20) خپله ژبه هم قلا ده هم بلا ده ـ

21) په ښۀ خولۀ پردي خپلېږي ـ

22) چې د زړونو پرېوځي لکه چې د غرونو پرېوځي ـ

23) چارۀ که د سرو شي په خېټه د منډلو نۀ ده ـ

24) د ازار نه چا بازار موندلے نۀ دے ـ

25) په ګڼو قصابانو کښې غوا مرداره وي ـ

26) د سوال په اوبو ژرنده نۀ ګرځي ـ

27) ژرنده که د پلار ده خو په وار ده ـ

28) يوه شپه په ژرنده کښې هم تېرېدے شي ـ

29) څۀ ژرنده ورانه او څۀ دانې لوندې ـ

30) دولس مياشتې کال وي، ګنده ئې پشکال وي ـ

31) چې څۀ کرې هغه به رېبې

32) هُنر زده کړه د کندو په سر ئې کېږده، وخت به ورله راشي

33) په حرکت کښې برکت وي ـ

34) چې درومې څۀ به مومې ـ

35) پياز دې وي خو په نياز دې وي ـ

36) ګل بې خاره نۀ وي ـ

37) د ګونګي په ژبه مور پوهېږي ـ

38) غاښ چې رنځور شي نو د امبور شي ـ

39) د دروغو مزے لنډ وي ـ

40) چې له اصله تور وي په صابن نۀ سپينږي ـ

41) چې د بل در ته ئې طمع شي من غوښه ئې کمه شي ـ

42) په سترګي مۀ شي د چا څۀ شي خو زړۀ ئې پرې ښۀ شي ـ

43) سړي کۀ غرونه دي ښځې ئې ارمونه دي ـ

44) تور خو لونګ دي چې په تولو خرڅيږي، سپين خو بوس دي چې په بوجو خرڅيږي ـ

45) خپله لاسه، ګله لاسه ـ

46) د فلاني ګټه ډېره ده خو لاس ئې خپل نۀ دے ـ

47) ملغلرې د اوبو په سر نۀ ګرځي ـ

48) چې رښتيا راځي نو دروغو به کلي وران کړي وي ـ

49) د غل مور د کندو په شا ژاړي ـ

50) خپل عمل د لارې مل ـ

51) پښتانۀ سل مړي په يوه جرګه بخښي ـ

52) د پردي باټه خپله برجو ښۀ وي ـ

53) غر په غر نۀ ورځي بنده په بنده ورځي ـ

54) اول اوخوره د ځان غوښې بيا اوخوره د ښکار غوښې ـ

55) بې ګودره مۀ ورګډيږه ـ

56) په دواؤ بېړو پښې مۀ ږده ـ

57) ترور نيمه مور ـ

58) چې په طمع د سورو شي هغه پاتې په مېرو شي ـ

59) خوږه ژبه د خزانې کُنجي ده ـ

60) د مور غېږه د ماشوم ورومبۍ مدرسه وي ـ

61) روري خوري به کوو خو حساب کتاب تر مېنځه ـ

62) سړے مړ شي نوم ئې پاتې شي ـ

63) نیکي به دې باچا کړي او بدي به دې رسوا کړي ـ

64) ارزان بې علته نهٔ وي ګران بې قیمته نهٔ وي ـ

65) تهٔ زما دارو زهٔ ستا دارو ـ

66) تېر په هېر باقي روزګار ـ

67) چار محکمه زړهٔ بې غمه ـ

68) چې تنګ شي نو په جنګ شي ـ

69) چې څهٔ تیار وي هغه د یار وي ـ

70) چې ساز ئې نو سپین باز ئې ـ

71) چې څنګه نیت هغسې مراد ـ

72) څهٔ خوره څهٔ پرېږده ـ

73) حق اخر حقدار ته رسي ـ

74) خپل عزت په خپل لاس کښې دے ـ

75) خوي د سړي سیورې وي ـ

76) دروغژن مختورن وي ـ

77) د سر دپاسه سر وي ـ

78) د کلي اوځه خود نرخه مهٔ اوځه ـ

79) ظلم لږ هم ډېر وي ـ

80) کارغۀ د خارو تلۀ زده کول خپل ترې هېر شو نو په ټوپونو شو ـ

81) لنډے حلال نه او خانک په سر ـ

82) مارغۀ دانهويني او دام نۀويني ـ

83) مرګ نۀ په وارۀ دے نۀ په زارۀ دے ـ

84) مار خوړلے د پړي نه هم يرېږي ـ

85) عقل په ټکرو راځي ـ

86) الا بلا به تۀ کړې، لور او زوے به پرې ماره کړې د مولا جواب به څۀ کړې ـ

87) الو په شلتالو نۀ پيوند کيږي ـ

88) انسان تابع د احسان دے ـ

89) اوچو سره لامدۀ سوزي ـ

90) په شملکۍ دې شوم غلطه په کور دې راغلم نۀ دې خر شته نۀ دې کته ـ

91) اولاد مور ساته، پټ ئې ساته خو په ادب ئې ساته ـ

92) اولاد د مور او پلار وزر دے ـ

93) اول پوښتنه کوه، بيا غوښتنه کوه ـ

94) بد مۀ کوه د باچا نه هم مۀ يرېږه ـ

95) چې بد ګرځي بد به پرځي

96) کۀ کور پردے دے نو خېټه خو خپله ده ـ

97) د هرې اونې مۀ خوره د يوې به دې ګنډېر شي ـ

د نمونې په طور دا څۀ لږ متلونه وړاندې کړې شو دا او دغه شان نور ډېر په زرګونو او لکونو متلونه شته چې نېغ په نېغه يا په څۀ واسطه د اخلاقياتو يادونه کوي ـ دا متلونه زمونږ د ژبې حصه ده دا مونږ په روزمره خبرو کښې په شعوري او لاشعوري طور استعمالوؤ ـ په دې کښې چې د کومو څيزونو ذکر شوے وي يا مثالونه ورکړے شوي وي دغه هم زمونږ د خاورې، چاپېرچل او کلتور سره تعلق لري، دغه وجه ده چې د متل اورېدو سره سمدستي د انسان ټوله خبره او مطلب په پوهه کښې راشي ـ

خو دا ډېره د افسوس خبره ده چې د وخت تېرېدو سره سره نه صرف ددې متلونو استعمال کمېږي بلکې ددې د نۀ خوندي کولو په وجه دا متلونه ختمېږي او کۀ چرې ددې د خوندي کولو دپاره سنجيده کوششونه اونۀ کړې شو نو زمونږ ژبه به ددې قيمتي ملغلرو نه خالي شي او زمونږ وينا او خبرې به بيا پيکه پيکه معلومېږي ـ

## ماخذونه


۱: داؤد، داور خان، پروفېسر"خوشحال او فولکلور"، ۲۰۰۰ء، پښتو اکېډمي پېښور، پوهنتون، ص ۱۷

۲: هېواد مل، زلمے"د پښتو ادبياتو تاريخ"، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۰ء، مخ ۲

۳: هم دغه اثر، مخ ۲۰

۴: مراد شينواري"تبصره"د موسیٰ خان شينواري د متلونو قيصې، پېښور، مخ ۵۲، بحواله لعل بادشاه خيالي، د متلونو، تهذيبي او لساني مطالعه، ډائريکټرېټ آف کلچر، خېبرپښتونخوا، پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ ۲۲

۵: قلندر مومند، فريد صحرائي، "درياب"، ټېکسټ بک بورډ پېښور، ۱۹۹۴ء، ص ۱۱۷۲

۶: يوسفزے، اباسين" تاثر" د پښتو متلونو تهذيبي او لساني مطالعه، د ايم فل مقاله، لعل بادشاه خيالي، ډائريکټرېټ اف کلچر، پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ نمبر نۀ لري ـ

۷: طائر، محمد نواز"روهي متلونه" پښتو اکېډيمي پېښور، ۱۹۷۵ء، مخ ۹-۱۰

۸: خيالي، لعل بادشاه، د متلونو تهذيبي او لساني مطالعه، مخ ۱۳۰

۹: طائر، محمو نواز، روهي متلونه، مخ ۱۵

۱۰: رضا،محمد افضل"پشتولوک ادب" اکادمی ادبيات اسلام آباد،پاکستان، 1989ء، مخ 92

۱۱: سائل، رحمت شاه"پېژندګلو" د متلونو په لار،د متلونو په لار،د فرهاد علي وسيم يوسفزے، الحافظ پرنټرز مردان، ۲۰۱۰ء، مخ ۲۴، ۲۵

۱۲: خيالي لعل بادشاه، د متلونو تهذيبي او لساني مطالعه، مخ ۸۳

۱۳: هم دغه کتاب

۱۴: یوسفزے، فرهاد وسیم، د متلونو په لار، ۲۰۱۰ء

۱۵: داود، داور خان، پروفېسر، خوشحال او فولکلور، ۲۰۰۶ء

۱۶: طائر، محمد نواز، روهي متلونه، ۱۹۷۵ء

۱۷: محمد نواز خان، میجر، د متلونو ګلدسته،یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۰۵ء

۱۸: رضا، محمد افضل، پشتو لوک ادب، ۱۹۸۹ء